مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۶/۰۲

نورستاني ژبه زمور د لرغوني ژوند هپنداره

نورستاني ژبه هغه هپنداره ده چې خپل لرغونی ژوند، باورونه، دودونه او فرهنګ په کې لیدلی شو. نورستان هغه مهال-پل دی چې مور له خپلو تېرو پېړیو سره نښلوي؛ له هغو وختونو سره چې په اړه یې خورا لږ معلومات لرو.
د عربو په راتلو سره، زمور د هېواد اکثره قومونه مسلمانان شول او له خپلو تېرو باورونو او ځینو دودونو سره یې مخه بنه وکړه نو د لرغونو افغانانو د فرهنګي میراث یوه مهمه برخه د تل لپاره له منځه لاړه. کله چې د یوې ټولنې ځینې پدیدې له منځه ځي، ژبه یې هم په هغو پدیدو پورې اړوند نومونه او اصطلاحات هېروي. مور په فارسي، پښتو او د هېواد په نورو ژبو کې د اسلامي پېړ نه مخکې حالات په لیکلي بڼه نه وو خوندي کړي او شفاهي ژبو مو هم ښایي د اسلام په راتلو سره د تېرو وختونو یو برخه مردوده ګڼلې وي او له نویو معتقداتو سره د ټکر په ګناه یې د هېرېدلو دوزخ ته اچولې وي. نو زمور د هېواد نورې ژبې مو هغو وختونو ته نه شي وروستلی چې د نوستالجي حس مو یې د لیدلو تلوسه لري.
د هېواد په ژبو کې یوازینۍ ژبه چې ممکن د لرغوني زماني میراثونه په کې خوندي پاتې وي، نورستاني ژبه ده ځکه چې په ټول وطن کې د اسلام او اسلامي باورونو تر خپرېدو دوولس سوه کاله وروسته لا هم د دې ژبې ویونکو خپل پخوانی دین، ژبه، فرهنګ، باورونه او دودونه ساتلي وو خو امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۹۶ میلادي کال کې پر دوی اسلام ومانه او له خپل تېر سره مخه بنې ته یې اړ کړل. له بده مرغه داسې برېښي چې نورستانیان هم د خپلو نورو تربورانو یعني پښتنو، تاجیکو، بلوڅو، پشه‌یانو او نورو غوندې له لیکلو سره چندانې جوړ نه وو. ما د کوم کتاب نوم نه دی اورېدلی چې د اسلام تر منلو وړاندې دی په نورستاني ژبه لیکل شوی وي. بله بدبختي دا ده چې هاغه مهال چې امیر عبدالرحمن خان نورستان ته لښکرې ولېږلې، جنګیالي او توریالي عسکر خو ورسره پرېمانه وو خو کوم ابو ریحان البیروني ورسره نه و چې هلته دې پاتې شي او د نورستانیانو د پخواني دین، لرغونو باورونو، اعتقاداتو، او ارزښتونو په اړه تحقیق وکړي او دا ارزښتمنې پانګې خوندي کړي.
اوس چې ځوان لوستی نسل مو تر یوه بریده د فرهنګي میراثونو په قدر او ارزښت پوه شوي دي، نورستاني ځوانانو ته مهم کارونه ګوري. خو د نورستانیانو اوسنی نسل له خپلو نیکونو څخه یو سل او پنځه ویشت کاله واټن لري نو دوی به د خپل تېر په هکله ډېر څه نه وي اورېدلي. له بلې خوا، پر افغانستان باندې د روسي پوځ تر یرغل وروسته او د جهاد د نغري په ګرمېدو سره، د نورستان د ځوانانو اسلامي جذبې هم په خوټېدو شوې نو ښایي چې د خپلو نیکونو ځینې میراثونه هم ورته یو مخ کفري بڼکاره شوي وي او د جهاد په اور به یې سوځولي وي.
مثل دی چې «جومات کې ونړېږي هم، محراب یې روغ پاتېږي.» نو کېدای شي چې نورستاني ژبه لا هم په خپله خزانه کې ځینې نایابې مرغلري ساتلې وي. ښایي په دې ژبه کې لا هم داسې هپنداري وي چې زمور ډېر هېر شوي وختونه زمور سترګو ته ودروي. نو د دې ژبې د کلمو، اصطلاحاتو، متلونو، محاورو، کړنو – انګېرنو، او (که لا ژوندي وي) پخوانیو باورنو، اساطیرو او عقیدو خوندي کول، خورا ارزښتمن کار دی. که نن هم د نورستاني ژبې د فولکلور په خوندي کولو لاس پورې نه کړو، نو سبا به مو لا زیات څه له لاسه وتلي وي.
له بنه مرغه، د نورستاني ژبې او فرهنګ د خوندي کولو هلې ځلې شوې دي او قدرمن استاد سلیمان سون آرا هغه څوک دی چې په دې برخه کې یې ډېر کار کړی دی. د بناغلي سون آرا د علمي کارونو په دوام کې دا دی دغه څلورزبیز قاموس زمور او ستاسو په لاسونو کې دی.
استاد سون آرا د نورستاني ژبې څه باندې ۴۰۰۰ کلمې د الفبا په ترتیب سره راوړي او د هرې کلمې مخې ته یې فارسي، پښتو او انګلیسي معادله کلمه لیکلې ده. د دې قاموس په لوستلو سره څو مهمو ټکو ته مو پام کېږي.
۱. ځینې نورستاني کلمې په پښتو او/ یا فارسي کې هم هماغسې دي. دا چې دا دری واړه ژبې د هندواروپایي ژبو په هندواریاني څانګه کې دي نو دغه مشترکات به هسې تصادفي «accidental» نه وي. د دې مشترکو کلمو ځینې نمونې به وګورو:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نورستاني	فارسي	پښتو	تبصره
زاں	زانو	زنګون	
زنزير	زنجير	زنځير	
ګا	ګاو	غوا	په فارسي او پښتو کې د «ګ» او «غ» غږونه یو پر بل اوړي.
نويی	نو	نوی	
وار	نوبت	وار	
نښوک	نول	مښوکه لرونکی	که د دې کلمې ریښه وګورو، ښايي له مښوکي سره يې رابطې نه وي.
ټيم		ټيم	اوسپنيز ډبی
جله	جاله	جاله	
چه کو	چاقو	چاکو	
ډل		ډله	د فارسي ژبی په کابلي لهجه کې هم دا کلمه شته، لکه په دې جمله کې: «يک دَل نفر آمده بود.»
پکرنګا	جنجال	لانجه	په پښتو او فارسي کې «پکر» د لانجې او شخړې د قياسي واحد په توګه کارېږي: «يک پَګر جنګ کرديم.»
لچر	لچر	لچر	په دې قاموس کې د لچر معنا «شيطان صفت» راغلی دی خو دا په پښتو او فارسي کې په همدې بڼه استعمالېږي: هغه لچره ده = هغه له ژبې ورانه ده.
شيله	سردی	سړه	فکر کوم په پښتو او فارسي کې د ژمې دوې چيلې (چله) به له همدې کلمې اخيستل شوې وي. خلک ګومان کوي چې چله به د فارسي له «چهل» څخه رغېدلې وي او معنا به يې څلوېښتي وي خو په ژمې کې دوې چيلې دي چې يوه لويه بلل کېږي او ۴۰ ورځې ده او بله يې وړه بولو چې ۲۰ ورځې ده. نو که خبره د څلوېښتو ورځو وي بيا خو لويه او وړه په کې نه وي. ښايي «چله/ چيله» همدغه «شيله» وي.
ډنګه	لاغر	ډنګر	د نورستاني او پښتو «ډنګه» او «ډنګر» خو بيخې سره نژدې دي خو په فارسي او پښتو کې د «د – ل» او «ګ – غ» د غږونو اوښتل را اوښتل معمول دي نو ښايي چې لاغر به هم له ډنګر سره رابطه ولري.
ټنګه	پول	پيسه	
تمان	تنبان		
زره		زړه	په زړه فارسي کې زړه ته «دِرد» ويل کېده او په فارسي او پښتو کلمو کې د «رد» او «ړ» آوازونه سره اوړي، لکه: کردن = کړل، گردن = غاړه
انواله	نواله	مړۍ خولې ته ورکوونکی	په کابلي فارسي کې «نواله» دې ته وايي چې مړۍ په خوله کې وژويې (په تېره بيا بادام، غوز يا نور زړي) او نرمه يې کړي او بيا يې د تيخوره ماشوم په خوله کې ورکړي.
دمکوته	دَمِ آهنګر		په کابل کې اوس هم فارسي ژبي هغې وسيلې ته چې د پښ بټۍ ته پوکی ورکوي، دم وايي. ښايي دا کلمه له نورستاني ژبې فارسي ته راغلې وي ځکه چې په نورستاني کې «دمی» باد ته وايي. البته په فارسي کې دم د ساه په معنا شته: دم گرفتن = ساه سمول

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۲. د ځینو اصطلاحاتو او کلمو لپاره په پښتو او/ یا فارسي کې څه نه لرو نو انګلیسي یا عربي کلمې ورته کاروو خو نورستاني ژبه ورته خپل اصطلاحات لري، لکه:

- چچی سته = مستعمره (حال دا چې دا د اوس مهال سیاسي اصطلاح ده)
- جراسته = هضم کول (په فارسي متنونو کې اوس د هاضمې پر ځای د «گوارش» کلمه کارول کېږي خو زمور د خلکو په ژبه کې دا کلمه نشته او نه په ایراني فارسي کې د «گواریدن» فعل شته).
- توع = طبقه، قشر
- پوعګدا = د کوي (چیچک) واکسین
- پلیلچام = رابر = ربړ (rubber)
- پـچـع = د هاکي ډنډه
- برلدش = قیامت
- بګیره = حرامونی
- بوسته = انتظار کول
- بار = خونبها، دیت
- اَیو = برکت
- ارم = سوله = صلح (ګومان کېږي چې د پښتو سوله به د عربي صلح مفغنه بڼه وي)
- آګع = د جمعې ورځ (په فارسي کې آدینه د جمعې ورځ ته وایي خو په اوسنۍ پښتو کې ورته نوم نه لرو)
- اګلیک = ناشُکره
- اوښه کراله = طبیب/ ډاکټر (ایرانیان اوس د «پزشک» کلمه کاروي خو ما د افغانستان د فارسي ژبو په هېڅ لهجه کې دا کلمه نه ده اورېدلې).
- اوښه کره = درمل جوړوونکی = فارمسست
- اونځله = ملاریا
- لاڼه = غلام
- لاڼې = کنیزه
- وم = انسان (د انسان لپاره په پښتو کې «سړی» لرو خو په فارسي کې «آدم» او «انسان» دواړه عربي دي).
- پلټن = د عسکرۍ دوره
- دوښوک = قیامت

۳. د هرې ژبې کلمې د هماغه ژبې د ویونکو ځینې فرهنګي ارزښتونه راښیي. په انګلیسي کې ماما او کاکا دواړه «uncle» بلل کېږي، ترور او عمه ته «aunt» ویل کېږي او د ماما، کاکا، ترور، او عمه لونې او زامن «cousin» بولي. خو مور هر یوه ته جلا نوم لرو. دغه توپیرول له یوې خوا هر چا ته د توجه او پام کولو معنا لري او له بلې خوا ممکن زمور له هر یوه/ یوې سره زمور د عواطفو توپیر وښیي. په نورستاني ژبه کې د خپلوانو په سلسله کې لا بل توپیر وینو چې په فارسي او پښتو کې نشته، لکه:

- جیښتا = مشر تره
- جیښتو = مشره ترور
- کعښتا = کشر تره
- کعشتی نو = کشره ترور
- مجمه = منځنی ورور
- انعه = بې مورې هلک
- انعیـ = بې مورې نجلۍ

۴. هره ټولنه په ځینو خاصو چارو کې ډېرو جزیاتو ته متوجه وي او هر جزء ته کلمه/ اصطلاح جوړه کړي وي. پښتانه چې پوونده او مالداره خلک وو، د څارویو د مختلفو عمرونو لپاره خپل اصطلاحات لري، لکه: ورغومی، سپرلی، وزګوړی، وزه – وری، مېږه، پسه – سخی/ سخی، سخوندر، غوا، غوایی ... همدارنګه د څارویو شمېر او ډلو ته هم کلمې لري لکه ټولۍ او کنډک چې دا اصطلاحات بیا وروسته د نظامي جزوتامونو لپاره وکارول شول. په نورستاني که هم وینو چې د څارویو د مختلفو عمرونو لپاره مختلف نومونه کارول کېږي او لا جالبه دا چې د څارویو رنګونه او نورې ځانګړتیاوې هم ورته مهمې دي خو ولې؟ ځواب یې د دوی په فرهنګ کې باید ولټوو. دا نمونې به وګورو:

- تره عه = هغه غوایی چې تندی یې سپین وي
- زعملع = هغه غوایی چې نور بدن یې سور خو تندی یې سپین وي
- پکع = د آس د پښو سپینه برخه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- پوعاسته = غوا په شپدو راوستل
- اخه (اخه ګڼل) = هغه څاروی چې یوه خوټه یې نه وي
- انی بوسته = هغه خوسی چې د مور غولانځه په غلا رودي
- پلیه سته = له غره څخه د څارویو راوستل
- پښی = د پوښتنې غوښه
- ښکولی = هغه غوا چې شپدې کمې کوي
- کڅ = د سیرلي د څټ وژغنې
- ماشال = په غره کې د شپنو کوټه

۵. په دې قاموس کې هغه کلمې خورا کمې دي چې مور ته د نورستانیانو د پخوانیو باورونو او خاص فرهنګ په اړه څه ووایي. ما ایله دغه څو کلمې په کې پیدا کړې:

- مان = خدای (دلته باطل خدای معنا شوی دی)
- مانتاه = عبادتځای
- دوښوک = قیامت
- تتوعوک = وړوکی بوت
- بنځیک = نوروز

خو ځینې کلمې باید په تفصیل سره تشریح شوي وای، لکه:

- «معواں = د ژمي یوه میاشت» او «اوتله = د یوې میاشتې نوم» مور نه پوهیږو چې دا کومې میاشتې دي؟ له کومو نورو قمري یا شمسي میاشتو سره رابطه لري؟ دا د کوم خاص تقویم میاشتې دي که څنګه؟
- اوځول = د یو الوتونکي نوم چې غوز خوري. ښه به وه چې د دې مرغه پښتو او فارسي نومونه هم لیکل شوی وای.
- امیښ = یو ډول خواړه چې له شیدو څخه جوړیږي. داسې ښکاري چې دا خواړه به د نورستانیانو خاص خوراک وي او په نورو قومونو کې رواج نه وي، نو که داسې وي، بهتره به وه چې د جوړولو طریقه یې هم یو څه بیان شوي وای. همدارنګه «سیو = یو ډول مېوه»، «ښونګوع = یو ډول ناروغي»، «ربو = د موسیقۍ آله»، «پعنزا = یو ډول وانښه» او «کیورباس = یوه محلي لوبه» هم تشریح غواړي.

سره له دې چې ښاغلي سون آرا ډېر زیار ایستلی دی خو د قاموس د لیکلو په وخت کې یې باید لا زیات دقت کړی وای ځکه چې د ځینو کلمو فارسي او پښتو او/ یا انګلیسي معناوې له یو بل سره اړخ نه لګوي؛ مثالونه یې کم نه دي خو دلته به یې یوازې یو څو بېګلي وګورو:

نورستاني	فارسي	پښتو	انګلیسي	تبصره
الستە	شپلیدن	ځښپنل	sucked	«شپلیدن» یعنې نښتېځل او sucked یعنې رودل شوي
اښتی	خانه بلند	جګه کوټه	Long home	Long = اوږد/ اوږده
اښه یی	زورګو	زورواکی	unreasonable	Unreasonable غیرمنطقي/ غیر معقول ته وایي
اښټیی سته	بی‌اشتها شده	بی اشتها شوی	Low feed	Low feed هیڅ معنا نه لري
پـچـع	چوب هاکی	د هاکي ډنډه	Wood hockey	په انګلیسي کې یې سمه ښه hockey stick ده.

هیله لرم چې د نورستاني ژبې او فرهنګ پټ اړخونه به لا زیات راوسپړل شي او د افغانستان فرهنګي میراث پرې لا بډای او لا متنوع شي.

محب الله زغم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ